# شالید نوټ

## د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په افغانستان کې د اداري فساد سره د مبارزې په اړه وروستی کړنی ارزوی

**د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په دې موخه جوړه شوې چې په افغانستان کې د اداري فساد سره د مبارزې اړونده ملي او نړیوالې هڅې په خپلواکه توګه و څارې.**

- د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه د اداري فساد سره د مبارزې په اړوند سپارښتنې او بنچمارکونه طرح کوي او د هغو څخه په پرله پسې توګه څارنه سرته رسوی، تر څو د هغو له اغیزمن پلي کیدو او تطبیق څخه ډاډ ترلاسه شي.
- د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په افغانستان کې د اداري فساد سره د مبارزې اړونده ملي او نړیوالې هڅې په خپلواکه توګه څارې.
- د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه له دریو کورنیو او دریو نړیوالو کارپوهانو څخه چې د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې ډېره تجربه لري، جوړه شوې ده.
- د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه په هرو شپږو میاشتو کې د افغانستان خلکو، ملي شورا، ولسمشر او نړیوالې ټولنې ته رپوټ وړاندې کوي.

**په تیرو شپږو میاشتو کې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د خپلو سپارښتنو د پلي کیدو څخه څارنه کړې ده.**

- د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د کابل بانک د قضیې په اړه د خپلو سپارښتنو د پلي کـیدو کار ته دوام ورکړ.  سره له دې چې د کابل بانک د تصفیې د مدیریت په کار کې د ترلاسه شوو ملکیتونو او جایدادونو د خرڅلاو له درکه د تالا ترغه شوو پیسو د بیرته ترلاسه کولو په برخه کې یو څه پرمختګ تر سترګو کیږي، خو د هغو پیسو د بیرته ترلاسه کیدو لپاره چې په نړیواله کچه وینځل شوې، جدي هڅې نه دي شوې . دولت او نړیواله ټولنه باید په دې هکله غښتلی هڅې په کار واچوي ترڅو  بهر ته ویستل شوې پیسې بیرته ترلاسه شي. سربیره پر دې، که چیری د استیناف محکمه شواهد د دویم ځل لپاره اوری، د استیناف د محکمی کړنی باید نوری هم غښتلی شی.
- د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې د سپارښتنو  پایله دا شوه چې د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنري (UNHCR) خپلو مالي او اداری اجرااتو ته له سره کتنه وکړي او و یی ارزوي. د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ اړوند سپارښتنی د دوګونو معاشونو د تادیې او د غبرګو حسابونو د لرلو  په برخو کی پرمختګونه شویدی او د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (UNHCR) خپلو مالي او اداری اجرااتو ته له سره کتنه پیل کړې ده.

- د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې، د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته دوه سپارښتنی  صادری کړي چې ترڅو د درغلی کوونکو کارکونکو د بیا ګمارنی څخه مخنیوی وشی او هم به ناامنه سیمو کی د رایه ورکونکو ثبتیدنه ګړندۍ کړی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ارزونی تګللاه جوړه کړی چی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیټی له خوا به د نږدی څخه وڅارل شی.

- د اردو په روغتون کي د اداري فساد د قضیي د هوارولو موضوع اوږده شوي ده. د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیته سره له دی چی غبرګی اوریدنی د فساد پروړاندی په محکمه کی سرته رسیدلی، د اړونده څیرنو له نا اغیزمنتیا، د ملي او نړیوالو اړونده ادارو تر منځ د همکاری له نه شتون او په همدې توګه د څیرنو یا تحقیقاتو د ضعف څخه اندیښنه لری.

***د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کميتي د خپل تاسیس له وخت نه تر اوسه پورې د ۱۰۰ څخه زیاتی سپارښتنې او بنچمارکونه وړاندی کړې دي.***

- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي د حکومتداری، د فساد د مخنیوي او د قانون د پلي کیدو په برخو کی چي ګڼ شمیر بيلابيلي دولتي او نړيوالي اداري تری اغیز لاندی نیسی، ۱۱۰ سپارښتنی وړاندی کړي دي.
- نوموړي سپارښتنی د پراخه څیرنو، سلامشورو او د ستونزو او په همدې توګه د کړنلارو د موخو د روښانه بیانولو پر بنسټ ټاکل شوي دي.
- د ۱۳۹۱ کال د کب په میاشت کي د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي د خپلو سپارښتنو او بنچمارکونو پنځمه ټولګه خپره کړه چي په هغو کي ګڼ شمیر بیلابیل وزارتونه، دولتي اداري، نړیواله ټولنه، مدني ټولنه او علمي موسیسو ته سپارښتنی نغښتي دي. د نوموړو سپارښتنو او بنچمارکونو د پلي کیدو په اړه لا د مخه ځني کړنی ترلاس لاندي نیول شوي، خو ځینی سپارښتني او بنچمارکونه له پامه غورځول شوي دي.

**په دې سربیره، د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي د ځني خانګړو پیښو لکه، د کابل بانک او به همدې توګه د اداري فساد سره د مبارزې په اړه د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د اړونده مادو په اړه ځني ریوټونه خپاره کړي دي او په دې ترڅ کې یی افغانستان ته ۹ کاري سفرونه لرلي دي.**

- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي د ولسمشر د ۴۵ ګڼې فرمان د ۳۸ هغو مادو د پلي کیدو د کار څارنه کړې ده چي د اداري فساد سره د مبارزې کار ته ځانګړې شوي دي.
- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي د ادري فساد پر وړاندې د زیانمنتی ګڼ شمیر ارزوني په لاره اچولي چی په هغوی کی بیرته را ستنیدونکو مهاجرو ته د ځمکی د وېش، د لوړو زده کړو په موسیسو کی د کانکور د ازموینې د بهیر او د لوړو زده کړو د موسیسو فارغانو ته د فراغت د سندونو د ورکړې په اړه یی د اړونده ریوټونو مسودې برابرې کړي دي.
- د څارني او ارزوني د خپلواکي ګډې کمیتي غړو د خپل ماموریت د یوې برخې په توګه، افغانستان ته د کال به هر څلورمه برخه کې سفرونه درلودلي دي. د کمیتي غړو د نوموړو سفرونو په ترڅ کی له دولتي او د نړیوالي ټولني له اړونده چاراکو سره کتلي دي، او تر څنګ یی د مدني ټولني له بنسټونو سره ځني کاري غونډې په لاره اچولي او ځني ولایتونو ته یی سفرونه هم کړي، او نوي سپارښتنی او بنچمارکونه یی منظور کړي دي. د کمیتي غړو تر اوسه پوری افغانستان ته ټول ۹ کاری سفرونه تر سره کړي دي.

***د څارني او ارزوني د خپلواکي ګډې کميتي غړو د پوهاوي د کچې د لوړولو په موخه ځني ولايتونو ته سفرونه هم تر سره کړي دي.***

- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کمیتي غړو د خپل وروستي سفر په ترڅ کي چي د روان کال د چنګاښ په میاشت کي تر سره شو د بامیانو له ولایت څخه لیدنه وکړه او د هغو په بهیر کي یی د ولایتی اداری، د څارنوالی له رئیس، د اداري فساد سره د مبارزې د ځانګړې محکمي له رئیس، د مدني ټولني له بنسټونو، د ولایتي شورا له غړو او په همدې توګه یی د حاجیګک د کلي له شورا سره وکتل.

- د څارني او ارزوني د خپلواکي ګډې کميټي د دارالانشاء غړو په سيمه ايزه کچه د خپلو سپارښتنو د پلی کیدو څخه د څارنی په موخه د بلخ، هرات، ننګرهار او کنړ په ولايتونو کې له اړونده کسانو او ادارو سره يو لړ سلامشورې تر سره کړېدی.
- په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې د فعالينو په منځ کې، د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه د آسانتياوو د برابرونکي او د اړونده چارو د مهم همغږي کونکي په توګه عمل کوي. د څارنی او ارزونی خپلواکی ګډی کميټي په اړونده چارو کې د ښکيلو کاري ډلو د تشکيلولو کار پيل کړی دی چې د هغو په مټ به د اداري فساد د اړونده چارو د تشخيص او هغو ته د حل د لارو چارو په پيدا کولو کې مرسته وشي. د څارنی او ارزونی خپلواکی ګډی کميټي تر اوسه له تر سلو ډېرو کسانو سره کتلي چې د دولتي ادارو، د مدنی ټولني له بنسټونو او له نړيوالي ټولني سره يې تړاو در لود.

***د څارني او ارزوني خپلواکه ګډه کمیټه په پام کې لري د نورو بیلابیلو موضوعاتو په اړه چې په هغو کې د قانون جوړوني او پروګرامي چارې، د اداری فساد سره د مبارزې قانون، د نا مشروع پیسو وینځلو سره د مبارزې قانون او د غصبو شوو ځمکو په اړه د عامه پښتنو او ګروپېرنو د یوې مقررې د مسودې ترتیبول هم راځي، یو خپلواک لیدلوری وړاندې کړي.***

- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کميټي د اداري فساد سره د مبارزې قانون ارزولی او د هغو د ښه والي په اړه ځني سپارښتني وړاندې کړی.
- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کميټي د نامشروع پيسو د وينځلو قانون ارزوی او د هغو د ښه والي په اړه به ځني سلا مشوري وړاندې کړي.
- د څارني او ارزوني خپلواکي ګډې کميټي پتيبلي ده چې د ځمکو د غصب د اړونده چارې په اړه د عامه پوښتنو او ګروپېرنو يوه غونډه په لاره واچوي او د هغو نيمګړتياوو په اړه چې ښايي د کار په بهير کې رامنځ ته شي، ځني سپارښتني وړاندې کړي.

**د نورو ډېرو معلوماتو لپاره د اداري فساد پر وړاندې د څارني او ارزوني د خپلواکي ګډې کميټي (MEC) سره د ((527 750 798 (0) 93+) شميرې تيلفون، (contact@mec.af) ايميل او (www.mec.af) وېب پاڼي له لارې اړيکې ټينګې کړی.**